سر یال نمبر: 301

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# چترال: خوارج ته درنه مرګ ژوبله

# ۱۵ تنه ترهګر ووژل شوي او ۱۹ تنه سخت ټپيان شول

له تېرو څو ورځو راهيسې د افغانستان په نورستان ولايت کې د پاکستان پولې ته څېرمه د خوارجو د ډېرېدو راپوروونه ورکړل شوي وو. نن سهار شاوخوا ۲۵۰-۳۰۰ ترهګرو د کيلاش سره نژدې په سرحدي سيمه کې په دوه پاکستاني پوستو بريدونه وکړل.

دلته دا خبره د اندېښنې وړ ده چې په سرحدي سيمه کې دومره زيات شمېر ترهګر څنګه راټول شول، څوک يې تمويلوي او د افغانستان موقت حکومت چېرته دی.

د دومره زيات شمير ترهګرو سره په پوستو کې ميشتو امنيتي منسوبينو په ډېر ميړانه او زړورتيا سره نه يوازې دا بريدونه شنډ کړل، بلکې خوارج ته يې درنه مرګ ژوبله هم واړوله او شاتګ ته يې اړ کړل.

په سيمه کې ځايي بکروال د خوارجانو د درنې مرګ ژوبلې عيني شاهدان دي، چې د خوارجو له تېښتې وروسته ۱۵ تنه مړي او ۱۹ تنه سخت ټپي حالت کې وړي دي.

د تل په څير د چترال سوله خوښونکي خلک په خپلو سيمو کې د ترهګرو شتون زغملو ته تيار نه دي او ترهګرو ته د پټيدو هيڅ موقع نه ميلاويږي.

د خوارجو د مرګ ژوبلې وروستو د چترال سره نژدې په سرحدي سيمو کې د زياتو ترهګرو د راغونډيدو خبرونه ورکړل شوي دي. بې له شکه چې خوارج د ځان لپاره لوی مصيبت بلونکی دی او د لا زياتو جرايمو په صورت کې به د دوی برخليک نور هم عبرتناک شي، ان شاء الله.

مورخه: ٦ ستمبر ٢٠٢٣ء

www.publicvoice.pk